السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# درې قسمه کسانو سره به الله تعالی د قیامت په ورځ خبرې ونه کړي، نه به یې پاک کړي او د دوی لپاره به دردوونکی عذاب وي

له سلمان الفارسی رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «درې قسمه کسانو سره به الله تعالی د قیامت په ورځ خبرې ونه کړي، نه به یې پاک کړي او د دوی لپاره به دردوونکی عذاب وي: زوړ (بوډا) زناکار، کبرجن غریب، او هغه کس چې د الله تعالی لخوا ورکړل شوی مال له سوګند پرته نه پلوري او نه یې پېري».
[صحیح دی] [الطبراني روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د درې ډوله خلکو په اړه خبر ورکوي چې که دوی توبه ونه کړي او یا ورته د سزا بخښنه ونه شي نو د قیامت په ورځ به د الله تعالی لخو د درې ډوله عذابونو مستحق وي: لومړ سزا: الله تعالی به له دوی سره د قیامت په ورځ د سختې غصې له امله خبرې ونه کړي او مخ به ترې وګرځوي، او یا به ورسره داسې خبرې وکړي چې هغوی پرې خوشحاله نه شي، چې دا به پر دوی د الله تعالی د غصې ځرګندونه کوي. دویمه سزا: الله تعالی به هغوی پاکیزه نه کړي، نه به یې ستاینه وکړي او نه به یې له ګناهونو پاک کړي. دریمه سزا: دوی ته به په اخرت کې سخت دردوونکی عذاب وي. او دا درې کټګور کسان په لاندې ډول دي: لومړی ډول: بوډا سړی چې د زنا په بد کار اخته وي. دویم: هغه فقیر چې مال نه لري، خو بیا هم پر خلکو تکبر کوي. دریم: هغه څوک چې د پلور او پېر پر مهال په الله تعالی ډېر قسمونه خوري، چې په دې سره د الله نوم سپک ګڼي او د پیسو د ترلاسه کولو لپاره یې وسیله ګرځوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5952

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee